# شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان


## سیپیک دهلیز
## به افغانستان له سیمې او نړۍ سره وصل کړي

د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ویاند حافظ ضیاء احمد تکل وایي، چې له سي‌پیک اقتصادي دهلیز سره په نښلېدو به افغانستان د سیمې او له اروپایي هېوادونو سره وصل شي.

نوموړي ویلي، چې د چین او پاکستان د اقتصادي دهلیز له نښلېدا سره به افغانستان وکولی شي د سیمې او اروپا له هېوادونو سره وصل شي او په دې توګه به پانګونه جذب کړي.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند زیاته کړې، چې په هېواد کې د امنیت له خوندي کېدو سره اوس اړتیا ده، چې له سي‌پیک سره د نښلېدا په ګډون نورې سترې او نړیوالې پروژې پلې شي.


د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۸۲ ګڼه / چهارشنبه ۲۷ شوال‌المکرم ۱٤٤٤ هـ.ق / ۲۷ ثور ۱٤۰۲ هـ.ش / ۱۷ می ۲۰۲۳ میلادي




# پایان هفته صنعت؛

### ریاست الوزراء
## قوانین برای تاجران و صنعت‌کاران تسهیل می‌شود

### وزارت اقتصاد
## رسیدن به خودکفایی مستلزم همت مشترک امارت و سکتور خصوصی است

### ریاست برشنا
## متعهد به تأمین برق ۲۴ ساعته برای صنعت‌کاران استیم

نمایشگاه صنعت که به پیشواز هفته صنعت در بیست‌ویکم ثور افتتاح شده بود، روز سه شنبه (۲٦ ثور) با حضور مقام‌های ارشد امارت اسلامی طی نشستی به کارش پایان داد.

مقام‌های امارت اسلامی در پایان هفته‌ی صنعت و اختتامیه نمایشگاه صنعتی گفتند که امارت اسلامی آماده‌ی فراهم آوری هرنوع تسهیلات برای صنعت‌کاران می‌باشد.

همچنان مقام‌ها تاکید کردند که آنان آماده‌ی فراهم سازی تمام تسهیلات برای صنعت‌کاران و جذب سرمایه‌گذاری می‌باشند.

مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری ریاست الوزراء دیروز سه‌شنبه، ۲۶ ثور، در نشست اختتامیه هفته صنعت، گفت که پالیسی امارت اسلامی تقویت تجارت و تسهیل قوانین برای صنعت‌کاران و تاجران است. وی از تاجران و صنعت‌کاران خواست تا در کیفیت واردات مواد از خارج کشور، توجه داشته باشند.

معاون اداری ریاست الوزراء افزود که هفته صنعت دستآورد بزرگ برای تاجران، صنعت کاران و امارت اسلامی بوده است.

وی با اشاره به قوانین حکومت پیشین که به مشکلات تاجران و صنعت‌کاران افزوده، گفت که پالیسی امارت اسلامی تقویت تجارت و تسهیل قوانین برای تاجران و صنعت کاران است.

حنفی در بخشی از سخنانش با اشاره به وضعیت جاری کشور تصریح کرد که اکنون زمینه‌ی سرمایه گذاری در کشور مساعد، امنیت تأمین و سرمایه محفوظ است، بناء تاجران و سرمایه گذاران باید به کشور برگردند و در داخل کشور سرمایه گذاری کنند.

حنفی این کار را فریضه اسلامی خواند تا سرمایه گذاران به کشور برگردند و در قسمت پیشرفت کشور و حمایت از مردم ص۲

## د دوحې غونډې ګډونوالو له اسلامي امارت سره پر تعامل خبرې کړې وي

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر پرون د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي له ځانګړې استازې مېرمن روزا اوتونبایوا او مل پلاوي سره وکتل.

دغه کتنه چې په سپېدار ماڼۍ کې ترسره شوه د سیاسي کمېسیون غړي او د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست ملا خیرالله خیرخواه او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سرمنشي د ځانګړې استازې سیاسي مرستیال مارکس پوټزل هم شتون درلود.

د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال په دغه کتنه کې له افغانستان سره د ملګرو ملتونو د مرستو ... ۷مخ

## د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت له دریو موسسو سره تړونونه لاسلیک کړل

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد له لوري له دریو موسسو سره د ۵ میلیونه، ۱۴۰ زره او ۴۱ ډالرو په ارزښت د همکاریو تړونونه لاسلیک شول.

د دغه وزارت له لوري په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې دغه تړونونه د یاد وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد له خوا د ACHRO، APWDO او VOPOHA موسسو له استازو سره په غونډه کې لاسلیک شول.

په خبرپاڼه کې راغلي، ۷مخ

## ننګرهار کې د ۹ ښوونځیو بیارغونې چارې پیل شوې



د ننګرهار ولایت په هسکې مېنې، کوټ او اچین والسوالیو کې د ۲۵ میلیونو افغانیو په لګښت ۹ ښوونځي بیا رغول کېږي.

د ننګرهار د پوهنې ریاست مسوولین وایي، چې د بیا رغولو... ۷مخ

## میدان وردګو کې ۹۰۸ کیلوګرامه نشه یي توکي سوځول شوي

د میدان وردګو د امنیې قومندانۍ د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې مدیریت له خوا څه باندې ۹۰۸ کیلو ګرامه ډول - ډول نشه یي توکي وسوځول شول.

د یادو توکو د سوځولو پرمهال د دغه ولایت د امنیې قومندان شېخ محمد شریف حلیمي وویل، چې اسلامي امارت په راتګ سره په یاد ولایت کې د نشه یي توکو کاروونې کچه کمه شوې او لا کمښت لپاره یې هڅې روانې دي. ۷مخ

## همکاری سازمان ملل در تطبیق پروژه‌های آبی

مجیب الرحمن عمرآخندزاده، معین آب وزارت انرژی و آب دیروز با ریچارد ترینچارد، نماینده‌ی سازمان غذا و زراعت جهان در افغانستان دیدار کرد.

غلام جیلانی حق پرست، رئیس ارتباط و نشرات وزارت انرژی وآب می‌گوید که: در این دیدار هر دو طرف درباره همآهنگی وهمکاری‌های مشترک در تطبیق پروژه‌های آبی، انکشاف شبکه‌های آبیاری و آبرسانی در کشور بحث و تبادل نظر کردند.

نماینده‌ی سازمان غذا و زراعت آمادگی آن نهاد را در مورد کار روی موضوعات یاد شده ابراز کرد وخواستار تحکیم ارتباطات کاری و گسترش همکاری‌های دوجانبه شد.

## سرمقاله

# طبیعي ذخایر دې خوندي شي

افغانستان غرنی هېواد او د آسیا لویې وچې په زړه کې پروت دی،د خپل ستراتیژیک موقعیت په درلودلو سره وخت نا وخت د نړۍ د سترو استعماري او استکباري طاقتونو د یرغل او حملو هدف ګرځېدلی او د دغه ښکلي هېواد ښکلا یې لوټلې او زموږ د وطن طبیعي معادن، قیمتي کاڼي او یورانیم یې تري وړي او غلا کړي دي. د افغانستان معادن او قیمتي کاڼي چې په نړۍ کې یې بیلګه نه لیدل کېږي لکه د بدخشان لعل، د پنجشیر زمرود د کونړ بیروج او په بېلا بېلو ولایتونو کې زیات معدنونه وجود لري چې زیاتره یې د ځایي خلکو لخوا په غیر فني توګه استخراج او بهرنیو ملکونو ته د قاچاقېږي او لاس ته راغلي پیسي یې د یو څو تنو جیبونو ته ځي. اوسني واکمن او حاکم نظام ته په کار ده چې په دې اړه اړین قدمونه واخلي او د ملت دغه ملي شتمنۍ خوندي او د افغانستان په بیارغونه او پرمختګ کې تري ګټه واخلي او له بهرنیو مرستو پرته په کور د ننه پخپل ځان بسیا شو همدارنګه د ځنګلونو د قطع کولو مخه ونیول شي د کونړ ولایت سمسور ځنګلونه د تېرو څلورولسیزو جنګ او جګړو په لړ کې چې زیاتره برخه یې قطع شوې او ګاونډیو هېوادونو ته قاچاق شوې نوریې په اړه لازم اقدامات وشي او هغه چې له کلونو راهیسې په اډو کې پراته دي د هېواد په داخل کې تري د آبادۍ په برخه کې ګټه واخیستل شي ځنګلونه چې د اکسیجن په... ۷مخ

### امیرالمؤمنینی را که من می‌شناسیم!
۲ مخ

### د «۰۱- قطعي» ظلم او د خلکو چیغې دویم ځلي ته راتلې!
۲ مخ

### صنعت و تولید در توسعه اقتصادی کشور، حیثیت ستون فقرات را دارد
صفحه ۳

## د سرطان روغتون جوړېدو په اړه غونډه وشوه

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت سرپرست ډاکټر قلندر عباد د افغانستان د کرکټ ملي... ۷مخ

## پکتیکا کې ٤ ښوونځیو ته ودانۍ جوړېږي

د پکتیکا د پوهنې ریاست مسوولین وایي چې په دغه ولایت کې د ۱۱ میلیونو افغانیو په لګښت څلورو ښوونځیو ته ودانۍ جوړېږي.

د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسؤلینو په وینا، چې د دغه ولایت د مرکز په ګډون په یوسف خېلو او ګومل ولسوالۍ کې د سویډن موسسې په مالي ملاتړ د ۱۱ میلیونو افغانیو په لګښت د څلورو ښوونځیو د ودانۍ د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

د مسؤلینو په خبره، هره ودانۍ به ۳ درسي او یوه اداري خونه، دوه تشنابونه او یوه د اوبو رسولو شبکه ولري.

## زابل کې د ښځو اسلامي حقونو اړوند لسګونه قضیې حل شوې

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د هغه فرمان له مخې چې ښځو ته د اسلامي حقونو د ورکړې په برخه کې صادر شوی، د زابل په کچه اړوندو ادارو ۳۸ قضیې حل کړې دي.

د دغه ولایت د عدلیې رئیس مولوي عبدالوارث خلیل باختر آژانس ته وویل، چې په تېره میاشت کې یې شاوخوا د ښځو د حقونو اړوند ۳۸ قضیې، چې د مهر، نکاح او میراث اړوند وې په ښه توګه حل او د اسلامي شریعت له مخې فیصلې ترسره کړې دي.

په همدې مهال د زابل د ... ۷مخ

## یونیسف د محلي ټولګیو شمېر ۲۱ زرو ته رسوي

د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ وجهي صندوق یا یونیسف وایي، د افغان ماشومانو د روزنې لپاره به د روان کال تر پایه د محلي ټولګیو شمېر ۲۱ زرو ته ورسوي. یونیسف په بامیانو کې د یوه محلي ټولګي د عکس په خپرولو سره ویلي، د محلي ټولګیو متعلمین نجوني او هلکان د دوو کلونو درس په یوه کال کې بشپړوي.

د یونېسف په خبره دا زده کوونکي په خورا لېوالتیا خپلو... ۷مخ

## بغلان کې د سمنټي ستنو تولید له پخوا زیات شوی



د بغلان د سیمنټي ستنو جوړولو کارخونې مسوولین وایي، چې د سیمنټي ستنو تولید د تېر په پرتله زیاته شوی او دوی په دې هڅه کې دي چې نور هم د ستنو تولید پراخ کړي.

د دغه ولایت د برېښنا... ۷مخ

# امیرالمؤمنینی را که من می‌شناسیم!

بخش پنجم / مهاجر فراهی / ترجمه: محمدصادق طارق

سخن مسلّم است که هر شهروند کشور ما حتی برادران خواص نیز می‌خواهند بدانند که رهبر و زعیم آنان روزانه به چه کاری‌های مشغول می‌باشد؟ در حال بررسی کدام فیصله‌ها است؟ تقسیم اوقات روزانه شان چگونه است؟ آیا شب‌هنگام نیز کارهای رسمی را انجام می‌دهد یا خیر؟ و غیره ...

ما در مورد رؤسای جمهور، پادشاهان و حاکمان مختلف جهان می‌شنویم که چند ساعت کار می‌کنند، تلاش می‌ورزند و دائماً برای توسعه کشور خود برنامه‌ریزی دارند.

همچنین در مورد برخی از حاکمان کشور خود شنیده بودیم که گویا بسیار کار می‌کردند.

از آنجائی‌که وقت در دنیا بسیار با ارزش است، بلکه ارزش آن را نمی‌توان با هیچ چیز دیگری مقایسه کرد دین مبین اسلام نیز مکرراً ما را به اهمیت زمان و استفاده صحیح از آن دستور می‌دهد. ما افغان‌ها باید بیشتر از دیگران کار نمائیم و تلاش بورزیم زیرا کشور ما از چندین سال‌ها بدین‌سو از ناحیه جنگ‌ها و بدبختی‌ها رنج می‌برد، و به شدت نیازمند بازسازی و آبادی است.

از آنجایی‌که رهبر امارت اسلامی عالم ممتاز است و ارزش زمان را بیش از هر کس دیگری می‌داند، به همین دلیل سعی و تلاش دارد تا بهترین استفاده را از وقت ببرد.

سخن را به درازا نمی‌کشانم. به این نکته بر می‌گردم که رهبریت امارت اسلامی وظایف خویش را بر منوال کدام تقسیم اوقات پیش می‌برد و چه کارهایی را انجام می‌دهد.

تقسیم اوقات روزانه‌ی رهبریت حفظه‌الله به شرح ذیل تنظیم شده است.

وقتی نماز صبح را با جماعت ادا نماید بلافاصله قرآن کریم را تلاوت می‌کند البته قرآن را با دقت کامل می‌خواند. باید یادآور شد که امیرالمؤمنین حفظه‌الله دارای صدای زیبا و قاری مجوّد می‌باشد که قرآن کریم را همواره با درنظرداشت اصول تجوید تلاوت می‌نماید.

هنگام نوشیدن چای صبح برخی مسائل مهم که مربوط فتوی می‌باشد را مطالعه می‌کند یا برخی اسناد لازم که مربوط به بعضی از کارها و ادارات می‌باشد را بررسی می‌نماید.

وقتی به دفتر کاری خویش تشریف می‌آورد، قبل از شروع وقت رسمی، مشکات‌المصابیح را به تمام کارمندان دفترش به‌شکل درس روزانه تدریس می‌کند سپس به کارهای رسمی مشغول می‌شود.

به همین ترتیب کارهای خود را ادامه می‌دهد. بعد از جماعت ظهر متصل غذا میل می‌کند و سپس طبق تقسیم اوقات به کارهای خویش ادامه می‌دهد. اگر گاهی اوقات مجلس طوری دائر شده باشد که چند افراد متعدد در آن سهیم باشند به هر شرکت کننده وقت داده می‌شود تا نظر خود را در مورد موضوع مربوطه بیان کند و صحبت نماید.

سلسله مذکور به همین صورت جریان دارد که گاهی اوقات تا ساعت یک و دو شب طول می‌کشد. گاهی اوقات چنین اتفاق افتاده است که تمام شب را به خاطر رسیدگی به موضوعات مهم نخوابیده است. همچنین باید یادآور شویم که زعیم حفظه‌الله به‌طور عادت همیشگی برای نماز تهجد بیدار می‌شود، گاهی اوقات قبل از نماز فجر نیز تلاوت و مطالعه می‌کند. خاصیت رهبریت این است مسائلی را که متوجه ایشان می‌شود، عمیقاً بررسی می‌کند و همه جوانب آن را در نظر می‌گیرد حتی به ترکیب جملات و کلمات توجه می‌کند. همچنین، ایشان بسیار مشتاق است که تمام مسائل مهم از زیر نظر خودشان بگذرد. با وجود تمام مشغله‌های مذکور می‌خواهد خویش را از وضعیت جاری، اتفاقات و مسائل مهم روزانه‌ی کشور به‌موقع با خبر سازد.

**ادامه دارد ...**

# خطوط حمل و نقل (کارگوی) هوایی...

آسیای مرکزی وصل کند.

به گزارش «آوا»: عبدالواسع، رئیس عمومی دفتر ریاست‌الوزراء امارت اسلامی عصر روز گذشته (دوشنبه، ۲۵ ثور) در مراسم افتتاح خطوط حمل و نقل هوایی و زمینی یک شرکت لوجستیکی گفت که شرکت‌های حمل و نقل معیاری و با تجربه از این قبیل، در زمینه‌ی توسعه صادرات محصولات زراعتی، صنایع و معادن کشور نیاز اساسی است.

او افزود که تامین امنیت و رشد اقتصادی از نیازهای اساسی رهایی کشورها از استعمار بیرونی‌ها است.وی همچنان گفت که اکنون در افغانستان امنیت تامین شده و زمینه برای سرمایه‌گذاران ملی و بین‌المللی فراهم شده است. از سویی هم عبدالکریم عارفی بازرگان کشور گفت که این خطوط هوایی و زمینی زمانی افتتاح می‌شود که فصل صادرات میوه تازه افغانستان فرا رسیده و این شرکت می‌تواند نرخ رقابتی را میان شرکت‌های حمل و نقل در کشور ایجاد نماید.

آقای عارفی افزود که بازرگانان کشور می‌توانند میوه‌های تازه و خشک افغانستان را از خط هوایی این شرکت به بزرگترین مراکز تجاری کشورهای بیرونی صادر و عرضه نمایند.

عارفی با بیان این که زمینه‌ی سرمایه‌گذاری در کشور فراهم شده و باید از سرمایه‌گذاران در جهت اشتغال‌زایی حمایت صورت گیرد، گفت: افغانستان نیروی بشری خوبی دارد و نباید این سرمایه‌های بشری به خارج مهاجر و نیروی کار کشورهای بیرونی شود.

از سوی دیگر مولوی فضل باری فضلی، معین وزارت زراعت، آبیاری و مالداری در این مراسم گفت که افتتاح خطوط زمینی و هوایی حمل و نقل، اقدام خوب در راستای صادرات محصولات زراعتی، صنایع دستی و بخش معادن افغانستان می‌باشد.

فضلی افزود که مشکلات سیاسی و تحریم‌ها بر فعالیت بازرگانان کشور تاثیر گذاشته و این شرکت می‌تواند بخشی از مشکلات بازرگانان را حل و محصولات زراعتی کشور را به بیرون انتقال و معرفی نماید. او بیان کرد که افغانستان کشوری زراعتی است و باید محصولات زراعتی به صورت معیاری توسط شرکت‌های حمل و نقل با تجربه به کشورهای بیرونی صادر شود.

آقای فضلی از کار روی طرح ایجاد کمپلکس‌های زراعتی در چهار زون کشور خبر داده و گفت که با ایجاد این کمپلکس‌ها بسیاری از مشکلات که در زمینه‌ی صادرات محصولات زراعتی وجود دارد، حل خواهد شد. سخی احمد پیمان معاون اتاق صنایع و معادن افغانستان نیز گفت که در بخش کارگوی هوایی شرکت لوجستیکی نخستین شرکتی است که در افغانستان افتتاح شده و خط زمینی آن نیز با امکانات بهتر فعالیتش جریان دارد.

پیمان افزود که بازرگانان محصولات زراعتی و میوه‌ی خشک افغانستان را بهتر است که از طریق خط هوایی این شرکت منتقل نمایند تا در بازارهای جهانی به موقع عرضه و وارد رقابت شود.

او افزود که سکتور خصوصی در کنار دولت و مردم قرار دارد و تا کنون در زمینه‌ی اشتغال‌زایی گام‌های موثری را بر داشته است.

# د صفر یو قطعي ظلم له امله د خلکو چیغې دوهم کلي ته راتلې!

عاکف مهاجر



له لوی اختر څو ورځې وروسته د لوګر مرکز دادوخیلو کلي ته لاړو ماښام مو ډوډی وختي وخوړله څو ملګري وو فضا ښه نه راته ښکاریده، که څه هم موږ طالبان نه وو خو د کور خلک ویریدل ویل یې چاپه کې کوربه او میلمه له یوه پلوه وژني د صفر یک عسکر د حق او نا حق پوښتنه نه کوي چې څوک پیدا کړي وژني یې که پیدا یې نه کړي کور خو خامخا ورانوي خدای دې خیر کړي زر زر ډوډی وخورئ چې چېرته بل ځای لاړ شو. ډوډۍ مو وخوړه له کور را وو وتلو هېڅ لوری راته خوندي نه ښکارېده او نه مو دا طمع وه چې بل څوک به ځای راکړي، خیر کوربه تر مخ موږ ورپسې شولو ویل یې راځئ دلته لرې یو باغ دی هلته به لاړ شو، دی تر مخ موږ ورپسې شولو څو دقیقې مو ګړندی مزل وکړ چې باغ ته ورسېدو، څو شیبې تیرې شوې چې هلیکوپټرو او چهارماشینه دورې شروع کړې، دلته هم ځان راته خوندي نه ښکاریدو یو بل ته مو همدا ویل چې ونه ښورئ ګوری طیاره ګرم ناګرم، طالب او غیر طالب نه ګوري حساب پوره کوي او له یو پلوه خلک بمباروي ، تقریباً دوه نیم یا څه کم درې ساعته تېر شول خو د طیارو ډار بمبار هر څه به مې هېر شي د هغو ښځو غږونه به مې تل په غوږ کې وي چې د صفر یک وحشي عسکرو یې ترمخ د کور نارینه غړي ورته شهیدان کړل او دوی ورته کریغې وهلې، دا چیغې او فریاد آن تر سهار پورې روان وو تول کلی کې دومره څوک نه وو چې له کور وتلی وی، ځکه دوی ویریدل چې د صفر یک عسکر به لا نه وي تللي که و مو ویني وژني مو. سهار اذانونه وشول لږ رڼا شوه کوربه کلي ته زنګونه شروع کړل، لومړی یې خپل کور ته زنګ وکړ وی خدای جل جلاله دې خیر کړي چې زموږ په کور یې چاپه نه وي وهلې د کور ټیلیفون یې لومړی وار زنګ تېر نه کړ رنګ یې ډېر بدل او وارخطا شو ویل یې لکه چې زموږ کور یې الوزولی چې څوک به پاته وي کنه، خو دویم وار موبایل ته زنګ ورغی او ورته و یې ویل کور کې خیر ده چاپه بل ځای وه خو خبر نه یم چې د چا په کور وه خو د کلي بر سر کې د ښځو چیغې او نعرې دي، له دې وروسته یې څو تنو نورو ته زنګ و واهه او همدا یوه پوښتنه یې کوله چاپه چیرته وه خو هر چا همدا ورته ویل چیغې دي خو وتلی نه شو سخت بمبار یې هم وکړ لا درک نه لګېږي.

مونږ ته یې ویل تاسو همدلته اوسئ زه یو وار ځم مالومات کوم چې څنګه چل دی، څو شیبې نه وې تیرې چې بېرته راغی او ویل یې زموږ کلي کې یې د ملامحمد رحیم په نوم د یو سپینږیري په کور چاپه اچولې او له سعودي څو ورځې وړاندې راغلی زوی او یو لمسی یې ورته شهیدان کړي، کور یې ګډ کړی، همدا یې مشر، د خبرې او ګټې وټې زوی و، په کور یې خاورې واوښتې رب تعالی دې رحم پرې وکړي.

سهار شو د صفر یک ځانګړو ځواکونو راپور خپور کړ چې د لوګر مرکز اړوند دادوخیلو کلي کې مو د حقاني شبکې د یو قومندان په ګډون څو تنه طالبان و وژل او یو مرکز مو ویجاړ کړ.

دوه ورځې تېرې شوې فیسبوک کې مې یوه ویډیو ولیدله یو سپینږیری په ملا کوپ سړی ولاړ دی او په ژړغوني لهجه وایي عسکرو ته مې و ویل زوی مې بوزئ تحقیق ترې وکړئ هغه بله ورځ له سعودي راغلی هېڅ ګناه په کې نشته خو هغه یې دلته شهید کړ او لمسی مې هلته شهید کړ په ماینونو یې کینولي وو، موږ یې له کور و ویستلو چې راغلو د چا غوښې هلته پرتې او د چا دلته، د دا زوی مې یوه پښه له کور لرې هلته آن مدرسې سره پرته وه.

د دې پر صبا طلوع نیوز هم یو راپور خپور کړ چې یو دیوال په وینو لړلی او همغه سپینږیری پلار د صفر یک عسکرو له لوري د زوی او لمسي د وژلو کیسه په اوښلنو سترګو کوي او وایي چې دا شپه لکه د قیامت په څېر پرې تېره شوه خدای دې په بل مسلمان نه راولي.

# پایان هفته صنعت؛...

سهم خود را ایفا کنند.

معاون اداری ریاست الوزراء با اشاره به مداخلات کشورهای خارجی ابراز داشت که کشورهای بیرونی در طول سال‌ها برای تخریب افغانستان سرمایه گذاری می‌کردند. وی از آنان خواست تا صنعت و تجارت را در افغانستان تقویت کنند، در غیر آن برای امارت اسلامی مشکل تراشی نکنند.

این مقام بلند پایه امارت اسلامی همچنین یک‌بار دیگر از تاجران ملی و صنعت کاران خواست تا در کیفیت واردات مواد از خارج به کشور توجه داشته باشند.

مولوی دین محمد حنیف سرپرست وزارت اقتصاد در این نشست گفت که افغانستان ظرفیت کلان در بخش معادن، ساختمانی و قوه بشری دارد که با اندک سرمایه گذاری به خودکفایی در خیلی از عرصه‌ها می‌رسیم.

حنیف اضافه کرد که با وجود سیاست‌های ظالمانه امریکایی‌ها و غرب؛ اما هنوز هم سالیانه شهروندان افغانستان حدود ۷ میلیارد دالر جنس را از خارج کشور خریداری می‌کنند.

او افزود که با اندک سرمایه‌گذاری در راستای صنعت؛ ما واردات را به حد اقل می‌رسانیم و اضافه از رسیدن به خودکفایی در خیلی از اجناس زمینه‌ی صادر آن را نیز فراهم می‌کنیم.

بربنیاد گفته‌های مولوی حنیف؛ هرچند امارت اسلامی آماده‌ی فراهم سازی هر نوع تسهیلات برای سرمایه‌گذاران می‌باشد؛ اما رسیدن افغانستان به خودکفایی در تولید اجناس به همت مشترک امارت و سکتور خصوصی نیاز دارد.

مولوی گل رحمن احمدی معاون ریاست برشنا نیز در این نشست گفت که ریاست برق‌رسانی افغانستان متعهد است تا برق ۲۴ ساعته را برای صنعت‌کاران تامین کند.

بربنیاد گفته‌های احمدی؛ در ماه‌های اخیر علاوه براینکه برق منازل مسکونی در پایتخت ۲۴ ساعته شده است؛ برشنا برق ۲۴ ساعته را برای پارک‌های صنعتی نیز تامین کرده است.

او اضافه کرد که به زودی برق پارک‌های صنعتی در سایر ولایت‌ها نیز ۲۴ ساعته می‌شود.

احمدی همچنین از جمع‌آوری یک مقدار زیاد بدهی‌های برشنا خبر داد و گفت که ۱۲۰ میلیون افغانی از بدهی‌ها از زورمندان جمع آوری شده و این روند همچنان ادامه دارد.

داکتر قلندر عباد سرپرست وزارت صحت امارت اسلامی نیز در این نشست گفت که بعد از رویکار آمدن امارت اسلامی یک سلسله تغییرات مثبت در همه ابعاد به میان آمده است.

او اضافه کرد که برای اولین بار سال گذشته ۱۱۱ میلیارد افغانی از گمرکات به صورت شفاف جمع آوری و به خزانه دولت واریز شده است.

بر بنیاد گفته‌های عباد؛ با این پول پروژه‌های که چهل سال قبل پلان عملی سازی آن بود، اکنون به مرحله‌ی اجراء گذاشته شده است.

عباد همچنین خاطر نشان ساخت که امارت اسلامی به همه دنیا نشان داد که در اقتصاد سازی و همچنین ثابت نگهداشتن ارزش واحد پولی کشور موفق عمل کرده است.

او خاطر نشان ساخت که تاجران و سکتور خصوصی نیز بعد از رویکار آمدن امارت اسلامی مطمئن‌تر از هر زمان دیگر به سرمایه‌گذاری در داخل کشور پرداخته اند و در مقایسه با کشورهای همسایه و جهان تغییرات مثبتی را در عرصه سرمایه گذاری شاهد هستیم.

در همین حال حمیدالله خادم رئیس اتاق صنایع و معادن در این نشست گفت که با رویکار آمدن امارت اسلامی و حمایت حکومت از سرمایه‌گذاران ما در خیلی از عرصه‌ها به خودکفایی رسیده‌ایم.

او اضافه کرد که در بیست سال گذشته حتا بوتل آب‌های معدنی از خارج وارد می‌شد؛ درحالیکه امروز هزاران محصول در داخل کشور تولید می‌شوند و خیلی از اجناس را صادر می‌کنیم.

خادم خاطر نشان ساخت که توقع می‌رود امارت اسلامی در حل چالش‌های موجود از جمله کمبود انرژی نیز اقدام جدی روی دست بگیرد، تا سرمایه‌گذاران بدون کدام تشویش به سرمایه‌گذاری بپردازند.

در همین حال، شیخ خالد حنفی، سرپرست وزارت امر به معروف ونهی از منکر گفت که افغانستان باید از هر لحاظ به خصوص اقتصاد، تجارت و صنعت پیشرفت کند و پیشرفت افغانستان بستگی به همکاری مشترک میان مردم و حکومت دارد.

حنفی افزود که وزارت امر به معروف و نهی از منکر با همه ادارات و افراد در این عرصه‌ها آماده همکاری است. حنفی یک‌بار دیگر همه مردم افغانستان را در «جهاد» شریک دانسته و گفت که ترقی کشور با همکاری همدیگر ممکن است.

حنفی تصریح کرد که طلافروشان در طول ۲۰ سال، طلای بی‌کیفیت می‌فروختند؛ اما در جلسه‌ی که با آنان داشته است، همه مؤظف به فروش طلا، با کیفت بالا شدند.

این‌مقام ارشد وزارت امر به معروف اضافه کرد که در گذشته ۱۵۵ تالار عروسی در پایتخت وجود داشت؛ اما آنان با محو کردن منکرات ۲۰ ساله از این تالارها، اکنون ۱۷۷ تالار عروسی در کشور بدون منکرات وجود دارد.

وی از تاجران و صنعت کاران خواست تا معاملات را مطابق اسلام انجام دهند در غیر آن مطابق حدیث رسول الله (ص) اعمال آنان قابل قبول نمی‌باشد.

حنفی همچنین از تاجران خواست که به حرف های «بیگانه» توجه نکنند.

حنفی در پایان صحبت هایش بیان کرد که امارت اسلامی در دوسال گذشته دستاوردهای فراوان داشته که همه از لطف خداوند عزوجل، همکاری مردم و دستورات رهبری امارت اسلامی بوده است.

## ملاعبدالغنی برادر:

# صنعت و تولید در توسعه اقتصادی کشور، حیثیت ستون فقرات را دارد

نوید احمد

صنایع ستون فقرات و هستهٔ اساسی انکشاف اقتصادی کشورها را تشکیل می دهد و حمایت همه جانبه دولت ها از این سکتور، سبب پیشرفت، ترقی و خود کفایی کشور می گردد، زیرا اقتصادی یک کشور، بستگی به تولیدات آن دارد، پس اگر اقتصاد خودکفا و مستقل باشد، جامعه از ستون ا صلی برخوردار و توانایی ایستادگی در برابر هر گونه فشارهای بیرونی را می داشته باشند.

به باور آگاهان اقتصاد، خودکفایی اقتصادی، عبارت از تولید امتعه و خدمات مورد ضرورت در داخل کشور جهت رفع نیازمندی ها و برطرف کردن معضلات ناشی از وابسته گی با درنظرداشت فرضیه مذیت نسبی است.

هر چند اقتصاد افغانستان نظر به پول های هنگفتی که در دو دهه پسین، وارد افغانستان شد، باید در سطح بلندی قرار می داشت، اما با تأسف عدم حمایت دولتمردان از صنعت و صنعتی شدن کشور، مداخله در سکتور بازرگانی، عدم ایجاد زمینه مطمئن و مصؤن برای سرمایه گذاری، توسعه و رشد این صنف، همچنان نبود بازار برای محصولات زراعتی و تولیدی و ... سبب گردید که امروز در صف فقیرترین کشورهای جهان قرار داشته باشیم.

بعد از حاکم شدن دوباره امارت اسلامی به کشور و تأمین امنیت مطمئن و سراسری، حاکمیت قانون و ایجاد فرصت های کاری، بدون شک زمینه سرمایه گذاری و صنعتی شدن کشور نهایت مساعد شد که می شود یکی از مؤلفه های مهم و کلیدی را حاکمیت سراسری و تطبیق قانون در افغانستان دانست، چون بدون تردیدی حاکمیت قانون یکی از مهمترین شاخص های انکشاف اقتصادی به شمار می رود، زیرا به هر اندازه یی که سطح حاکمیت قانون در یک کشور بلند باشد به همان اندازه، زمینه سرمایه گذاری و رشد اقتصادی نیز مساعدتر می باشد به این معنی که حاکمیت قانون، مستلزم امنیت است و سرمایه گذاران بدون اندک تشویشی در کشوری که امنیت باشد، سرمایه گذاری می کنند، جان و مالشان از خطر محفوظ، مشکلات اداری و حقوقی تجاری شان نیز از روی عدالت و انصاف صورت می گیرد، چیزی که در دو دهه اخیر آن هم زیر سایه قدرت های پوشالی دنیا، در افغانستان مساعد نبود، در حالی که سرمایه داران قوی و پول های هنگفتی نیز در افغانستان سرازیر شد، اما در عدم امنیت مطمئن و مصؤن، خطرات جانی و مالی که از سوی باندهای تبهکار سرمایه گذاران را تهدید می کرد، هیچ گونه پیشرفت قابل ملاحظه یی، نه تنها در راستای رشد صنعت صورت نگرفت، بلکه در عدم اشتغال در کشور، هزاران جوان برای به دست آوردن لقمه نان در راه های صعب العبور، دریاها و جنگلات جان های شرین شان را از دست دادند و یا با قبول مشکلات تاقت فرسا، راه مهاجرت و بی وطنی را در پیش گرفتند. حالا که امارت اسلامی افغانستان با درک از واقعیت های عینی جامعه، نه تنها در پی معاف مالیات فابریکه داران و صنعت کاران است، بلکه در صدد ایجاد فرصت های مناسب کاری برای صنعت کاران ودر تلاش بازار یابی به محصولات زراعتی و تولیدی کشور نیز است، به تازه گی یک مقام امارت اسلامی در نشست خبری وزارت مالیه گفته است که مقام عالی رهبری امارت اسلامی به هدف پشتیبانی و توسعه بخش صنعت، چهار درصد از مالیه ربع وار انتفاعی این بخش را به دوصد درصد کاهش داده است.



وی همچنان تأکید کرده: بر اساس دستور رهبری امارت اسلامی به هدف پشتیبانی و رشد صنعت هفت درصد از مالیه موضوعی قرار داد بخش های بازرگانی، کشاروزی و صنعتی را نیز معاف کرده در پهلوی آن چهاردرصد از مالیه موضوعی قراردادی سال مالی ۱۴۰۲ برای پوهنتون های خصوصی، مکاتب و مدارس را نیز معاف کرده است، وزارت مالیه در حالی از کاهش مالیات خبر می دهد که در هفته گذشته ملا عبدالغنی برادر معاون اقتصادی ریاست الوزراء امارت اسلامی در افتتاح نمایشگاه بین المللی کابل که به مناسبت هفته صنعت برگزار شده بود، گفت: صنعت و تولید در توسعه اقتصادی کشور، حیثیت ستون فقرات را دارد، یک کشور زمانی به پیشرفت می رسد که صنعت قوی داشته باشد، بناً نه تنها این که ما خود کفا باشیم، بلکه به جهان نیز تولیدات خود را صادر نماییم.

ملا برادر پیرامون مشکلات ناشی از برق گفت که به صنعت کاران مژده می دهم که به زودی در داخل کشور صاحب برق کافی خواهیم شد.

به باور وی، هر کسی که در صنعت سرمایه گذاری نماید، کمیت و کیفیت محصولات خود را تضمین کند، امارت اسلامی خود را مکلف می داند تا اجناسی که از خارج وارد می شود را جلوگیری و به هدف بازاریابی و خودکفایی صنعت داخلی، مقدار تعرفه اموال وارداتی را افزایش دهد.

بنابراین صنعت کاران کشور به این عقیده اند که پیشرفت و خودکفایی افغانستان بستگی به رشد و توسعه صنعت دارد وعدم پیشرفت این صنعت در سال های پسین نادیده گرفتن صنعت کاران از طرف دولت بود و با تأسف که تمام همکاری دولت گذشته در قالب وعده و نوشته های روی کاغذ خلاصه می شد. روی این اساس صنعت کاران و پیشه وران کشور از امارت اسلامی انتظار دارند که صنعت کاران، پیشه وران، سکتور زراعت و ... را حمایت کند تا افغانستان به خودکفایی برسد تا این کشور علاوه بر بیرون شدن از بازار مصرفی کشورهای همسایه، منطقه و جهان به کشور صادر کنند اقلام تولیدی و زراعتی، مبدل گردد و مهم تر از همه زمینه شغل برای جوانان مساعد و جلو مهاجرت های غیر قانونی نیز گرفته شود. بناً جا دارد که به خاطر خودکفایی اقتصادی همه با هم برای رسیدن به این شاخص بسیج شویم و کشور را به خودکفایی اقتصادی برسانیم.

قابل یاد آوری است که نمایشگاه هفته صنعت و تجارت روز سه شنبه ۲۶ ثور حضور بزرگان امارت اسلامی به پایان رسید.

# په نړۍ کې له ټولو غولوونکی شعار جمهوري اسلامي دی

امین وردګ

شعارونه خو په لدړو دي! مګر له ټولو زیاتي خاورې چې د ساده لوحو مسلمانانو په سترګو کې ور اچوي، هغه د (جُمهوري اسلامي) په نوم دروغجن شعار دی.

تاسو خو د دغو متضادینو الفاظو څخه جوړ مرکب اسم مانا ته سم ځیر شئ! جُمهوري، بیا اسلامي!!! وا سرېه! خو یا یې جُمهوري کړئ او یا هم اسلامي! جمهوري اسلامي نو بیا څه مانا؟ اسلام خو واحد امر او واحد قانون دی، چې واحد ذات د واحد شخص په واسطه موږ ته د (وحدت) لپاره رالیږلی! نو کله چې واحد قانون موجود وي، جمهوریت ته بیا څه اړتیا ده!

که د دغه مرکب اسم اساس او فلسفه وکتل شي، نو څرګ یې لا له اسلام سره تړاو نه لري.

پخوانیو انسانانو به د حکومتونو لپاره په خپلو قبیلو کې هغه څوک ټاکل؛ چې د حکومتولۍ پوره وړتیا به یې لرله او بیا به یې هغوی ته نُجباء یا نجیب زاده ګان ؛ اشراف یا شریف زاده ګان ویل او د هغوی به یې دومره عزت او احترام کولو؛ لکه موږ چې د خپل پیغمبر کوو؛ ځینو خو به یې آن سجدې لا ورته لګولې او خپل مشران به یې؛ د ځانونو، نسلونو، مالونو او حتی ځمکې او آسمان ناجیان بلل.

چې هغوی تاریخ د امپراتورانو، پاچاهانو او سلاطینو په نوم ثبت کړی دی.

خو کله چې اسلام منځته راغی او د الله ستر نازولي نبي (ص) مدینه منوره، ورپسې مکه مکرمه او ځینې نور ښارونه فتح کړل، نو پر مفتوحه سیمو یې د اسلام په نوم واحد قانون حاکم کړ.

مګر کوم وخت چې سردار د عالم له دنیا رخصت شو، نو د حکومت واګې د ده مبارک صحابه کرامو په لاس کې واخیستې او موږ ته یې د اجماع او قیاس اساس کېښود؛ البته د قرآن کریم او نبویه احادیثو تر سیوري لاندې.

دغه نکته ډېره حساسه ده! نو باید په دقت او پوره مهارت سره ورته وکتل شي او هغه داسې: صحابه کرامو، تابعینو او تبع تابعینو په اسلام کې کوم څه زیات کړي او یا ترې کم کړي نه دي! یوازې په هغو نکتو کې یې خپل نظرونه وړاندې کړي؛ چېرې چې موضع نویې وي او په هکله یې په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې صریح یادونه نه وي شوې؛ لکه په اوس کې چې کوم وسائل، وسائط؛ لکه ستلایټونه ، ډرون الوتکې او کمرې ، اوبتلونه، ټلیفونونه، ټلوېزیون او راډیوګانې، یا داسې نور... شیان دي، چې دا یو هم په قرآن کریم او مبارکو احادیثو کې صریحاً نشته او نه دي یاد شوي! ځکه خو په داسې مواردو کې له اجماع او قیاس څخه کار اخیستل کېږي.

په هر حال...تاسو په ((الیوم اکملت لکم دینکم...) کې شک مه کوئ! دین یقیناً کامل دی، مګر له قرآن کریم سره نبوي احادیث، اجماع او قیاس اړین دي، همدا راز د سلف صالحینو زرین اقوال، خو چې د اسلام له اصل (قرآن کریم) سره ټکر نه وي.

مطلب چېرې چې کومه موضع په قرآن کریم، یا محمدي احادیثو کې واضح شوې وي، هلته نه اجماع ته اړتیا شته او نه هم قیاس ته؛ خو چېرې چې واضح حکم نه وي موجود، نو بیا پرته له اجماع او قیاسه بله لاره نشته؛ الله دې وکړي چې پوه شوي به یاست!!!

راځو اصل مطلب ته! د اسلام دښمنانو خو بیخي ډېر کوښښونه وکړل چې د دغه ستر الهي قانون د نفاذ او حاکمیت مخه ونیسي او په دې هکله یې له هرې ممکنې لارې کار واخیست، اما څه په لاس ورنغلل؛ بلکې لا به یې تاوان وکړ او مسلمانان به تر هغه پسې قوي شول، تر دې چې د عثماني خلافت دور راغی او زیاترې کفري نړۍ ائتلافونه رامنځته کړل او نظامي ټولنې یې جوړې کړې، چې له ټولو زیات فکري او فزیکي تمرکز یې پر دغه څه باندې شپې سوه کلن اسلامي خلافت وکړ، تر څو د مسلمانانو د وحدت رمز او یوازینی اقتدار له منځه یوسي، چې بیا لومړۍ نړیواله جګړه رامنځته شوه او په نتیجه کې یې (زموږ د ناغېړیو او خوبونو له امله) زموږ یاد زعامت و نړېد. انا لله و انا الیه راجعون.

کله چې زموږ خلافت چپه شو، نو دوی دستي لاس پر کار شول؛ اسلامي قلمرو یې تجزیه کړ او پر وړوکو وړوکو امارتونو یې وویشلو.

دوی پوهېدل او د خپل پیر ارسطو نسخه یې یاد وه! ځکه خو یې زموږ د وړوکو امیرانو فکرونو ته د پاچاهۍ خیالات ور تزریق کړل او په دغه ډول یې زموږ د بیا انسجام مخه د تل لپاره و نیوله او دا کار تر ډېره د انګلیس شیطاني مخکښانو د اهل کتابو (یهود او نصاراوو) په مشوره تر سره کړ، خو بیا یې به هم خطرات محسوسول.

دا چې دوی له وخته لا د مسلمانانو پر نویو نسلونو مخفیانه پانګونه کړې وه او ډېر یې د خپلې اډیالوژۍ سره سم روزلي وو، ځکه خو نو ډاډه وو؛ چې که چېرې د مسلمانانو دغو وړوکو نظامونو ته د جُمهوریت شکل ورکړل شي، نو ایله بیله به د دوی کرلي نیالګي بار ونیسي.

پر همدې توافق وشو؛ چې نور نو د دې وخت را رسېدلی، ترڅو د جوړې طرحې لپاره پلانونه تیار کړي او عملي جامې ور واغوندي، خو دلته یو ستر خنډ لا پاتې و! او هغه دا چې؛ که د مسلمانانو له ټولنو او حکومتونو د اسلام نوم لرې کړل شي، نو دوی خامخا حساسیت ښیي او چوپ نه کښېني ؛ ځکه خو دا موضع جداً تر بحث لاندې شوه؛ له ښه ډېر فکر کولو وروسته پر دې بحث پیل شو؛ چې له جُمهوري سره باید اسلامي نوم هم ضم شي؛ بیا پر دې هم اعتراضونه وشول؛ چې څرنګه ممکنه ده؛ ترڅو د مسلمانانو غوڅ اکثریت تېر باسو او په سترګو کې یې خاورې ور واچوو؟ بیا د دې پوښتنې د ځواب لپاره هم دلائل وړاندې شول، چې عمده یې دغه دوه وو:

ا- د مسلمانانو نوی نسل زیاتره دوی روزلی! ځکه خو به په دغه مورد کې د یوې آلې په توګه وکارول شي او ستر داخلي جلنجونه به دوی خپله دفع کړي.

ب- مسلمان ته فقط کافر مه وایئ! یانې د مسلمان نوم مه ترې لرې کوئ، نور کفري قوانین هم درسره مني او دغې نکتې ته به هم د ډېرو محدودو کسانو ورپام شي؛ چې جُمهوري او اسلامي سره متضاد الفاظ دي؛ نو څرنګه کېدای شي چې له ترکیبه یې واحده مانا واخلو؟

لنډه دا چې؛ پر یاد شعار اتفاق راغی او دا یې د مسلمانانو لپاره د نویو حکومتونو نوم خوښ کړ او همدا یې د رسمي تعاملاتو او دیپلوماتیکو اړیکو لپاره سره کرښه یاده کړه، ځکه خو تر اوسه لا هم همغه شېوه چلېږي.

ګواکې که چېرې د کوم اسلامي هېواد حکومتي جوړښت جمهوري نه وي، هغه هېواد په رسمیت نه پېژني؛ مګر دا چې وچ زور و ویني! خو بیا به هم موقع ته ګوري.

ښه نو! که زما تحلیل سم نه وي؛ نو ماته دې یو څوک ووایي چې: که موږ له جُمهوري اسلامي څخه دا اسلامي لفظ لرې کړو (لکه د ع او غ له ادارې چې جان کیري لرې کړی و!) څه ستونزه به رامنځته شي؟ معلومه ده چې هېڅ! د کرزي حکومت ته یې هم جُمهوري اسلامي نوم ورکړی و، خو جوړ امریکایانو کړ او قانون یې د اسلامي نظام د قوانینو خلاف و، چې دا موضع بیا بېله ده! که څوک غواړي چې اعتراض وکړي او یا ځان پوه کړي؛ نو هغه دې حقائق ولولي؛ خامخا پوهېږي ان شاءالله.

د غني حکومت هم جُمهوري اسلامي و، خو کفارو ته یې امن او سکون ورکاوه، مګر مسلمانانو ته یې د نمرود انګار تیار کړی و او په ټولو زندانونو کې به یې پاک اقشار په ناپاکو لاسونو تعذیبول.

خو کله چې جان کیري د ع او غ حکومت رامنځته کړ، نو یې هغه اسلامي لفظ یو مخ ترې حذف کړ او (حکومت وحدت ملي) نوم یې پرې کېښود، خو هېچا هم اعتراض و نه کړ او نه د چا دغې حساسې نکتې ته چندان ورپام و؛ مګر ما هغه مهال هم دا خبره کړې وه، چې هدف یې د اسلامي لفظ لرې کول او په دې هکله د خلکو عکس العمل دی ؛ خو دا چې چا سوړ و نه وهلو، نو دوی هم مطمئن شول چې مسلمانان په رښتیا ویده دي!

ګورئ! زه به تاسو ته یو ډېر ساده مثال وړاندې کړم؛ خو مخکې یوه پوښتنه درنه کوم: رښتیا ووایاست! په ټولنو کې ښه خلک ډېر وي که بد؟ یانې د الله پاک پر قانون برابر خلک لږ دي که ډېر؟ معلومه ده چې په ۷۱ فرقو کې یوه ناجیه ده! ګواکې په ۷۱ سلنه کې یوازې یوه سلنه خلک د الله پر لاره برابر وي، چې د دغه شمېر پر اساس په سلو کې یوه نیمه سلنه خلک سم ثابتیږي او دا پاتې آته نیوي نیم یې ټول د شیطان پر پله روان وي.

اوس نو تاسو ووایاست! که چېرې موږ جُمهوري نظام د اسلام ضد و نه بولو او خپل حکومت پر همدغه منوال رامنځته کړو؛ آیا ممکنه ده چې یوه نیمه سلنه خلک دې له آته نیوي نیمې سلنې څخه میدان وګټي؟

بله واورئ! په اسلام کې د زعیم لپاره د وړتیا شرائط موجود وي! یانې هر بانجان او بادرنګ امیر، یا امیرالمؤمنین نه شي کېدلی او نه یې څوک مني! مګر په جُمهوریت کې چې فقط سر ورپورې وي او تابعیت ولري، هغه نو که هره بلا وه کوای شي چې ولسمشر شي !!! دا نور شرائط یې هم همداسې درواخلئ.

په جمهوریت کې د یوه بانفوذه او با رسوخه، مدبر، عاقل او رښتیني خدمتګار رایه له یوې حرامي او فاحشې نجلۍ، یا فاحش هلک سره ذره توپیر هم نه لري؛ نو که چېرې یوې خوا ته د جهان په سطحه ستر او مشهور سړی چې ښه متقي او باتدبره عالم هم وي - کاندید شي او بلې خوا ته یو بې دینه خائن او علني زناکار، بیا نو لومړی کس د یوه بل ستر سړي یوه رایه واخلي او دغه بل ته دوه نور بې پلاره او بې موره رایې ورکړي، نو (د جُمهوریت د قانون پر اساس) به دغه عالم خاورې میدان ترې یوسي !!! ځکه چې د دغه بل کس یوه رایه پرې زیاته ده! نو بریا خو ظاهراً حق؟! د همدغه فاحش کس ده.

مګر په اسلامي قانون کې داسې نه ده! رایه شته خو باید د اهل حل والعقد والا کس یو چاته رایه ورکړي، نه هره بنده او هر کدو.

خدای دې وکړي چې پوه شوي به واست.

مطلب (جُمهوري اسلامي) نوم یو دروغین شعار دی، چې پرې غلط نه شئ.

## قوماندانی امنیه کابل:

# بی‌وقفه تلاش می کنیم تا مجرمین را گرفتار و به پنجه قانون بسپاریم

**اسفندیار**

یکی از مشکلات حاد اجتماعی که همواره سبب نگرانی مردم بوده و از این ناحیه رنج می‌برند وجود دزدان و سارقین در شهرهای بزرگ و مشخصاً کابل است.
کثرت جمعیت و گاهاً عدم نظارت پی‌هم حوزه‌های امنیتی از گذشته های به اینسو سبب بستر سازی دزدان و فرصت طلبان در شهر کابل شده و پیوسته از مردم قربانی گرفته است. در نظام گذشته آنچه تعامل حکومت با دزدان و مافیا می‌خواندند، بیشتر باعث جسارت دزدان شده بود و سارقین روز روشن ازادانه با سلاح های گرم گشت و گذار می‌کردند و به قطاع الطریق ادامه می‌دادند. این دزدان مسلح در گروپ های کوچک و بزرگ از کیسه بری‌های کوچک تا آدم ربایی پیچیده نقش داشتند و بارها به خاطر یک تیلفون همراه جان زیادی از شهروندان را گرفتند و بی رحمانه وحشت و دهشت خلق می‌کردند.
اما پس از استقرار نظام امارت اسلام و برخورد قاطعانه این حکومت با دزدان و رهزنان در سراسر کشور، باندهای بزگ مافیا و قطاالطریق فرو پاشید و شهروندان گواه به کیفر رساندن تعداد زیادی از دزدان بودند. اما آنچه هنوز هم مایه نگرانی شهروندان پایتخت نشین است موجودیت دزدان کوچک در پس کوچه های شهر می‌باشد.
در روزهایی گذشته گزارش های متعددی از سرقت تیلفون‌های همراه حکایت می‌کنند و کما کان دزدان مسلح در نواحی مختلف شهر تیلفون شماری از شهروندان را گرفته اند.
رحمت الله باشنده کابل میگوید که هفته گذشته حدود ساعت هشت صبح دو تن سوار بر موترسایکل سر راهش را گرفته و با تفنگچه تهدید به مرگ کرده و تیلفون همراهش را گرفته اند.
وی گفت: «صبح روز یک‌شنبه هفته گذشته نزدیک سرک عمومی دو تن موترسایل سوار سر راهم را گرفتند و با زور اسلحه بازرسی بدنی کردند و تیلفونم را با خود بردند.»
وی میگوید که پس از این حادثه به حوزه سیزدهم امنیتی مراجعه کرده موضوع و محل حادثه را با یکتن از مسوولین در میان گذاشته، اما برایش گفته اند که آن منطقه مربوط حوزه هجدهم امنیتی می‌شود و آنها در ناحیه حوزه‌های دیگر دخالت نمی کنند.
به گفته وی سارقین مبایل در این اواخر بیشتر شده و تیلفون‌های زیادی را از نزد مردم گرفته اند. وی افزود: «تنها در دو هفته گذشته تیلفون چهار دوستم را از مربوطات حوزه های هجدهم، سیزدهم و ششم دزدان مسلح گرفته اند و مردم را لت و کوب کرده اند.»
رحمت الله می‌گوید که مواجه شدن با دزدان مسلح روی روانش اثر گذاشته و هر از گاهی در بیرن از منزل دچار استرس شده است. به بیان او دزدان آرامش مردم را به هم زده و از مسوولین امنیتی میخواهد تا هرچه بیشتر جلو این سارقین را بگیرند.
با این حال قوماندانی امنیه کابل می‌گوید که گراف جرایم جنایی در کابل همه روزه رو به کاهش است و از مردم می‌خواهد تا بیشتر با نیروهای امنیتی همکاری کنند.
خالد زدران سخنگوی قوماندانی امنیه ولایت کابل به خبرنگار روزنامه شریعت گفت:
با توجه به همکاری مردم و به کیفر رساندن مجرمین و همچنین بیداری نیروهای امنیتی در تأمین بیشتر امنیت شهر کابل میزان جرم های جنایی هر روز در حال کاهش است. اما با آن هم نمی شود گفت که جرم های جنایی به صفر رسیده است، در بعضی نقاط هنوز هم دزدان رهزنی می کنند. اما تلاش نیروهای امنیتی پیوسته این است تا مجرمین را گرفتار و به پنجه قانون بسپارند.
آقای زدران در خصوص نگرانی‌های مردم مبنی بر وجود دزدان مسلح گفت: بدون کارت جواز حمل سلاح، هیچ کسی نمی‌تواند سلاح حمل کند و کسانی که با اسلحه دیده شود نیروهای امنیتی آنان را گرفتار خواهند کرد. در این زمینه نیز از مردم میخواهیم تا با نیروهای امنیتی همکاری کنند و با دیدن چنین اشخاص به شماره ۱۰۰ پولیس به گونه رایگان در تماس شوند، هویت شان محفوظ خواهد بود و در گرفتاری مجرمین، ما را یاری رسانند.
وی افزود که از هموطنان میخواهیم که مثل گذشته در کنار ما برای امنیت بهتر بی‌ایستند.
سخنگوی قوماندانی امنیه کابل نیز ضمن تایید عدم تداخل وظیفوی میان حوزه‌های امنیتی در شهر کابل، گفت: این موضوع مهم است، هیچ ارگان یا حوزه در ساحیه حوزه دیگر فعالیت نمی توانند و این یک اصول است. بهتر است با دیدن اشخاص مشکوک و رویداهای جنایی حوزه امنیتی مربوطه در جریان گذاشته شود و آن حوزه به قضیه رسیدگی کند. اما با آن هم راه کوتاهش این است تا به شماره ۱۰۰ پولیس در تماس شوند و جریان را شریک سازند و از این طریق در کمترین وقت با حوزه‌های مربوطه هماهنگی صورت می‌گیرد و به قضایا بهتر رسیدگی می‌شود.



# نقش کمره‌های امنیتی درکشور

**محمد فیاض حیدری / استاد دیپارتمنت مخابره وکمپیوتر**

کمره‌های متحرک وثابت امنیتی دربخش تامین امنیت کشورها خیلی مهم بوده که بااستفاده از آن تکنالوژی می‌توان دربخش‌های دولتی، مناطق مهم و استراتیژی، منازل مسکونی،جاده های عامه برای کنترول وتخلفات وسایط نقلیه توسط، ترافیک دستاوردهای چشم گیرداشته باشد. به طورمثال اگرتوسط واسطه نقلیه بالای جاده عامه حادثه صورت گیرد نمی‌تواند از قانون ترافیک فرار نماید. اگرما درمناطق نا امن ،شهرها، ولایات، راه های ترانزیتی کشور را در نظر بگیریم با استفاده از پرسونل به نسبت کمبود تشکیلاتی نمی‌توانیم تمام ساحات را زیرپوشش قرار دهیم هرگاه کمره‌های امنیتی متحرک در ساحات مختلف نصب و با ظرفیت‌های متفاوت جا به جا نمایم توسط کمره‌های متحرک و ثابت می‌توانیم ساحات ناامن را از نظر کشفی تحت پوشش گرفته و ازمرکزسوق اداره قطعه مربوطه کنترول نماییم. درصورت مشاهده حرکات واعمال خصمانه دشمنان وطن جلوگیری نموده و ازمرکزسوق و اداره نوکریوال مربوطه ساحات را تحت نظرداشته وبتواند حملات خصمانه دشمنان وطن ومردم را به وقت وزمانش خنثی سازند.
کمره های متحرک با ظرفیت های متفاوت موجود است که با استفاده از آنها درشب تاریک نیز می‌توانیم ساحه راتحت پوشش خویش بیارویم وازهرحرکت اخلال گران آگاه شده و درحصه گرفتاری ویا نابودی آن‌ها اقدمات بموقع را انجام دهیم. با استفاده ازکمره های کشفی متحرک می‌توانیم هرنوع فعالیت دشمن را تحت نظرداشته باشیم تا مسافه ۱۰، ۲۰ تا ۳۰ کیلومتر با ظرفیت های مختلف درساحات دورازپوشش امنیتی به عوض پرسونل گزمه استفاده نموده وازتلفات احتمالی پرسونل جلوگیری شده بتواند. ازکمره ها با اشکال وساختار مختلف استفاده صورت میگیرد. مانند پروانه ، بمبیرک ،ملخ، حشرات وپرنده ها میتوان از این تکنالوژی استفاده کرده از نوع اسلحه و تعدا د مخالفین وغیره مسایل شان معلوماتی کشفی را به دست آورده وعملیات خویش را موفقانه وبدون تلفات پرسونل انجام داد ونیز میتوان از سیستم بلوتوت درهنگام عملیات دربین پرسونل قطعات که شامل عملیات هستند یک هماهنگی خوب را درجریان عملیات بوجود آورده تا باشد دستاوردهای خوب پرسونل امنیتی ما داشته باشند. با استفاده از تکنالوژی میتوان نقاط آسیب پذیر راه های ترانزیتی را نیزتحت پوشش قرار بدهیم.
بطورمثال اگر شهرها را درنظر بگیریم تامین امنیت با استفاده از پرسونل ازلحاظ موجودیت اراضی نا هموار مشکل است ولی با استفاده ازکمره‌های متحرک وثابت می‌توان ساحات مورد نظر را تحت کنترول خویش بیارویم واز یک مرکزثابت کنترول ومشاهده نماییم پیش از اینکه دشمن به اهداف خود برسد شناسائی وبه گرفتاری آنها اقدام به موقع را انجام داد معلومات کشفی خویش را بدست بیاوریم.
بناءٌ پیشنهاد بنده این است تا مقاماتی که درسطح رهبری قرار دارند به این مسأله و در اکمال مواد تکنالوژی عصری ومدرن فوق الذکر توجه لازم نمایند که با استفاده از آنها پلان‌ها واقدامات شوم دشمنان مردم ما خنثا شده و امن ونظم عامه درسرتاسر کشور عزیز ما به شکل خوبتر تامین گردد.



# د سرېتوب لاره!

**دادمحمد - ناوک**

ځینې چې له واک، ځواک او په شهواني نیلي سپور جریان نه وغورځېدل، اوس یې نو باید د موجوده نظام د اصلاح، سمون او ښه توب لپاره نظرونه وړاندې کړي وای، ځکه اداري سیستم له دوی را پاتې دی او کولی شي د پرمختګ لپاره یې ممکن سم نظرونه ولري؛ خو د دوی تمرکز په تبلیغاتي جګړه، سپک ویلو، ارزښتونو ځپلو، په دیني شعایرو تر ملنډو او د ګوتو په شمېر د څو غولېدلو د فزیکي اخ وډب پر شاباسي مصروف دي.

دا ولې؟ دوی لکه څنګه چې یې دعوه کوي که رښتیا هم ملي فکر لرلی، نو که یې عقیدوي خواخوږي نه لرلی د ملت په خاطر به یې د ملي ګرایۍ حس پورته جنایاتو ته نه پرېښودل، یا به یې د دې نظام د تقویې لپاره مشورې، نظرونه او د لا ښه پرمختګ لپاره مخامخ یا په انلاین نړۍ کې تجربې شریکولې؛ یا به وجداناً پوهېدل چې دوی شل کاله د نیمې نړۍ په سیاسي، پوځي او مالي ملاتړ فرصت درلود، خو دوی هغسې ګټه ځنې وانه خیسته چې حد اقل تاریخي شرم یې دفع کړی وای؛ نو اوس باید نوې حکومتولۍ ته فرصت ورکړل شي او دوی باید خوله پټه ونیسي!

خو دوی دا یوه لاره هم خپله نه کړه؛ ځکه چې دوی ذهناً افغانان نه دي چې د خپل هېواد لپاره پر خپلو معیارونو برابر فکر وکړي، د دوی د فکر او قضاوت تلې پردی دی، دې پردېتوب دا جنجال وزېږاوه چې دوی فکر کوي چې د هېواد اصلي مالکان دوی دي، نو که دوی پر دې ملت او هېواد په وچ زور کمونیستي فکر مني، که د ملت د شکولو لپاره له انسانانو سپي جوړوي، د شهواني برید له ډاره یې پېغلې تر بامونو ځانونه اچوي، پر خپلو هېوادوالو د خپلو جګړه مارو سپېرې خرڅوي، که د ملت د معصومو سینې پرې کوي، که په کانتېنرونو کې یې ژوندي سوځي، که پر سرونو یې مېخونه ټک وهي او که پر مړیو نڅاوې کوي، څوک یې باید مخې ته ونه درېږي!



اوس چې په کم زماني حد کې د هېواد اصیلو زامنو ته بېرته د هېواد مالکیت په لاس ورځي دوی یو ډول ذهني شکنجه حسوي، ځکه چې دا مالکیت دوی ته د ور پېچکاري شوي ذهنیت خلاف دی، ځکه یې خلاف دی چې کله هم دوی پر ملت خپل نفسونه ور کشکارلي، پر وړاندې یې همدا کېږه پګړۍ درېدلې، همدې پګړۍ یې د کمونیستي رژیم جرړې وایستې، همدې کېږې پګړۍ ملت د زرداد له داړلو خلاص کړ، همدې کېږې پګړۍ د ملت د ساتنې لپاره په تش لاس نیمې نړۍ ته پوره شل کاله سینه سپر کړه!

پایله دا شوه، چې دوی فکر کوي، د دوی د هر اقدام، هر عیش او هرې شهوت رانۍ پر وړاندې همدا پګړۍ درېږي، ځکه خو یې باید پر وړاندې چې څه له وسه کېږي وکاروي؛ خو غلط ځکه دي چې دوی د خپلو اسلافو په لار روان دي او پر ځان باور یې لکه د خپلو نیکونو تل صفر وي، پردیو ته زارۍ کوي او دا تمه لري چې څنګه بیا کوم بل څوک راوغواړي، چې خپل ملت پرې وداړي او دی د نیمه واک تر ګدۍ ورسوي!

خو دا ځل هغه ادرسونه چې دوی ورته تمې لرلې، ټولو د عبرت ګوزار لیدلی؛ نو د سرېتوب لاره به دا وي چې دوی دا ومني، ځان ته قناعت ورکړي او اعتراف وکړي چې څو نسله یې غلط تللي، اوس مالکیت اصلي واکدار په لاس کې اخیستی او دوی یې یا باید همکاري وکړي یا حد اقل ځان ګوښې ته کړي، چې که یې په اړه تبصره کېږي نو دا نړدې ماضي خو یې ورته څوک مخې ته کې نه ږدي، چې هېڅ دیني، اخلاقي، ټولنیز او عرفي کرښې ته یې احترام نه درلود!

# د آخـــرت فـکر

**مفتي وقايت الله - وقار**

ټول چوپه خوله دي، دلته د جرګو او مرکو سړي دي؛ خو نه غږېږي، داسې به ونه انګېرې چې ګویا دوی هم یو وخت خبرې کولای شوې...

هغوی چې په دنیا یې د زور او ځواک راج و، هم شته، مګر د ګاردونو بې وفایۍ په نیمه لاره کې پرېښي دي، د دوی زرګونه مینه وال په نیمه کې له دوی ستانه شوي او دوی خواران یې د ټول عمر لپاره یوازې دلته راوستلي دي.

ډېر داسې زر او زورواکي دلته شته چې خبره به یې وکړه؛ نو ددې ګنجایش به نه و،چې چا به ورته (نه) ویلي وو، د دوی خبره خبره وه او که په شرعي او عقلي تول به برابره وه او که نه؛ خو د سترګو په رپ کې به خلکو منله.

هغوی هم بلا دي چې ټول ژوند یې په ناړامۍ کړی، د نظامونو مقابله یې د ژوند پېشه وه او د وخت هېڅ په اصطلاح فرعون ته یې تن نه ورکاوه؛ مګر چندان خونده یې نه شته.

دلته لمر راوخېږي، ورځ تېره شي، کله باران وشي او کله وربېځ چکر ووهي؛ شپه شي، د ورځې بېلابېل انسانان راشي، څوک په یوه نیت وي او څوک په بل؛ خو د دې سیمې په خلکو کې دومره وړتیا هم نه شته چې آن د ژوند له ټولو نړېدې او محبوبو وګړو ته د ښه راغلاست لپاره ورجګ شي.

هغوی چې د مېلمه پالنې او غوره کوربه توب تاریخونه لري، هم چې دې سیمې ته کډه وکړي، بیا نو دومره پیکه شي چې سترې مه شې هم نه وایي، پاتې خو لا د مېلمه پالنه او درناوی دی.

د دې سیمې او نورې دنیا یو لوی توپیر په دې کې دی چې د نورې نړۍ وګړي په خپلو کې اړم دي، هر یو په دې هڅه کې دی چې د ځان پر ګټه دنیا راوڅرخوي او ډېر خو داسې هم شته چې د نورو په شر کې خپل خیر لټوي، مګر د دې سیمې خلک داسې نه دي، د هر چا کار له خپل ژوند سره ترلی دی او هر څوک د خپل ځانګړې ژوند روزګار دومره بوخت کړی ،چې آن د نږدې ګاونډي له حالته هم خبر نه دی.




